مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۹/۱۵

# سپما

د طالبانو په حکومت کې د ترور کره ولاړم. که ګورم چې روسي اورلګيت او ليپتون چای يې په الماری کې ايښي دي. دا ځکه راته په زړه پورې وو، چې داسي شيان د ډاکتر نجيب الله د حکومت په نسکوريدو له بازاره ورك شوي وو. د تنظيمونو په راتلو سره له روسيې سره تجارت بند شو او هغه توکي چې د ډاکتر نجيب په حکومت کې واردېدل، ببخي ورك شول، د هغوی پر ځای بازارونه له پاکستاني او چينايي مالونو ډك شول.

د دغو شيانو په ليدو سره مې تېرې خاطرې راپه زړه شوې، خوند يې راکړ. له ترور مې پوښتنه وکړه چې دا شيان يې له کومه کړل. هغې يو دوه مني تيم راوړ. سر يې خلاص کړ. تيم له اورلګيتو او د کالي مينځلو له روسي صابونونو ډك و. ويې ويل: هاغه وخت به د کوپون مواد مو له مصرفه زيات وو، ما هم اضافي شيان سپما کول. دا دی اوس مو په ښه راځي.

دا داسي وخت و، چې ډېرو خلکو به د اوليه موادو د اخيستلو لپاره پيسې هم نه لرلې. پخوا به له يوې خوا پيسې کمې وې او له بلې خوا نارينه هم سخت وو، د کور د ضرورت شيان به يې په خپل وخت نه اخيستل، ځکه خو مېرمنو به د سپما له لارې ژوند چلاوه. سپما به يې داسي کوله چې مثلاً که به په کور کې د يوې اوونۍ بوره لا پاتې وه، خاوند ته به يې ويل، چې بوره بيخي خلاصه ده. خاوند به يې چې نوره بوره راوړه، دي به هغه د يوې اوونۍ برخه په بل ځای کې ايښوده او له ورځني خرځ څخه به يې ايسته کړه. په همدې توګه به يو وخت يو مني يا دوه مني تيمونه له بورې ډك شول. دغه بوره بيا په هغه وخت کې خپل ارزښت ښييل، چې په کور کې به غيران نه و او مېلمانه به هم ورروان وو.

د افغانستان اکثر مېرمنې تر نارينو د کور په چلولو ښه پوهېږي. نارينه اکثراً بولهوسه دي، چې پيسې يې په جيب کې وي، هر شي ته يې سودا کيږي چې وايي خلې؛ خو مېرمنې د کور ضرورتونو او اينده ته ډېر پام کوي. زما مشر زوی لا ليس کلن دی، خو مور يې وايي چې له همدا اوسه بايد هره مياشت يو څو روپۍ د هغه د واده لپاره بېلې کړو.

د مهاتما ګاندي ژوندليك مې لوسته، جالب شيان مې په کې ولوستل. هغه چې د عدم تشدد لاره يې خپله کړې وه او په سوله ييزو مبارزو يې بريتانويان دې ته اړ ايستل چې د دوی له خاورې ووځي، د سپما په برخه کې يې په زړه پورې کارونه کول. ګاندي وايي: ((ما سګريټ څکول. چې فکر مې وکړ د صحي زيانونو تر څنګ يې اقتصادي تاوان هم زيات و. زموږ ملك غريب ملك و، که دغه يوه يوه روپۍ چې په سګريټ يې لګوو وسپمو، نو دا به هم زموږ له اقتصاد سره مرسته وکړي.))

ګاندي وايي د سپما په نيت مې وټپيله چې نور به سلمانی ته نه ځم، ويښته به مې پخپله جوړوم. په اول وار رانه خراب شول، خو پسې ونه ګرځېدم. کرار کرار مې د سر جوړول زده کړل، هر وخت به هينداري ته کېناستم او سر به مې پخپله جواړاوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

يو همکار مې دی، چې د پينځو سوو او زرو افغانيو په لګولو چورت نه خرابوي، وايي په دې وړو پيسو څه نه جوړېږي. خو د روسانو متل دی وايي روبلونه (روبل د روسيې پولي واحد دی) له کوپيکونو (يو روبل سل کوپيکه کېږي) جوړېږي. ياني که د لږو پيسو په خرڅولو احتياط ونه کړې نو ډېرې پيسې به له لاسه ورکړې. ما دغه تجربه کړې ده. ما مستقل ژوند له داسې ځايه پيل کړ، چې دوه توشکې، دوه برستنې، يوه ټوټه ايراني موکېټ او څلور پينځه ګېلاسونه او غابونه مې لرل. د خپلې مېرمنې په مرسته مې يوه يوه روپۍ سره جمع کړې، کور مې جوړ کړ، د کور ټول ضروري سامان مې واخيستل، موټر مې واخيست او اوس د خپلو زامنو د راتلونکې لپاره پيسې سپموم. زما ځيني انډيوالان راته وايي چې ته سخت يې، بخيل يې، وږی يې؛ خو زه باور لرم چې که خپلې پيسې بې ځايه ولګوم او بله ورځ پيسو ته اړ شم، بيا به مې همدغه انډيوالان هم پور نه راکوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ